# د افغانستان او برتانیا تر منځ د دوامدارو روابطو ګډه اعلامیه

۱. د افغانستان د اسلامي جمهوري حکومت او د د لویې بریتانیا او شمالي آیرلند متحده شاهي حکومت، یوامن، باثباته او دموکراتیک افغانستان ته چې د ملتونو په ټولنه کې بشپړه ونډه ولري متعهد دي. دواړه حکومتونه په دې پوهیږي چې د افغانستان ولس په هغو هڅو کې چې د خپلې راتلونکې د جوړولو لپاره یې کوي دنړیوالې ټولنې د پام وړ او دوامداره مرستو ته اړتیا لري. برتانیا لادمخه د پام وړ پرمختیایی مرستو د یو پروګرام اوپه افغانستان کې دخپلو پوځونو دشتون له لارې د افغانستان د بیا ودانولو په کار کې خپل تعهد ښودلي. زموږ مشترکې ګټې او د ملګرتیا ټینګې اړیکې د دوامداره روابطو لپاره یو ډاډمن بنسټ دی چې په راتلونکو لسو کلونوکې به زموږ ګډو همکاریوته لاپیاوړتیا وبخښي.

۲. برتانیا د هغې میړانې چې د افغانستان حکومت او خلکو د بیا رغاونې او بیا پخلاینې په پلي کولو کې ښودلې، او د افغانستان دحکومت د هغه هوډ چې بیا به هیڅکله پرې نږدي چې افغانستان د تروریزم او تنظیم شویو جرایمو ځاله وګرځي، ستاینه کوي. دواړه حکومتونه اراده لري چې سره یوځای په نړیوالې ټولنې کې له همکارو هیوادونو سره د افغانستان اودسیمې د امنیت او هوساینې د پراختیا لپاره ګډې هلې ځلې وکړي.

۳. د افغانستان حکومت یوولسواک سیاسی نظام، د قانون د واکمني ټینګولو، د بشري حقونوساتنې، مالی فساد سره دمبارزې، د نشه یي توکیو د مخنیوي او د متبادل معیشت برابرولو ته په خپل تعهد یوځل بیا ټینګار کوي. برتانیا تعهد کوي چې د افغانستان حکومت سره د دې اهدافو په لاس ته راوړو کې د دوه اړخیزو اړیکو له لارې او هم په نړیوالو سازمانونوکې دبرتانیا دغړیتوب له لارې خپلو مرستو ته دوام ورکړي. برتانیا به په نړیواله ټولنه کې او له هغې جملې څخه دملګرو ملتونو د امنیت شوری د دایمي غړي اود اروپایي اتحادیې، ناټو او د جي ۸ هیوادو د یوه مخکښ غړي په توګه له خپل نفوذ څخه له افغانستان سره د نړیوالو همکاریو ددوام په لار کې کارواخلي.

**سیاست او اقتصاد**

۴. دواړه حکومتونه به د بن د پروسې دلاسته راوړنو دلاپراختیا او د یوټاکلي مهال ویش مطابق د نظام جوړونې دهڅو د دوام په موخه د نړیوال توافق لپاره هلې ځلې وکړي. برتانیا به د افغانستان له حکومت سره په ملي اوولایتي سطحه د داسي مستحکمو او دوامداره بنسټونو په جوړولو کې چې د حکومت د پالیسو د عملي کولو وړتیا ولري، مرسته وکړی، چی په هغو کې به د ملکی خدماتو د یو مسلکی او د وړتیا پر بنسټ ولاړ سیستم پراختیا او له اداري فساد سره مبارزه شامل وی. برتانیه به د نوي پارلمان په وده کې هم مرستندویه رول ولوبوی.

۵. افغانستان به داسې کړنلارې پلې کړي چې د اقتصادي پیاوړتیا، دوامدار پرمختګ او د بیوزلي په کمولو کې مرسته وکړي، چې پدې کړنلارو کې به د موثرو، مسئولو اوشفافو ادارو جوړول، د مالي فساد د له منځه وړلو لپاره د لازم مالي شفافیت رامنځته کول، د خصوصي سکتور له پرمختګ او د پانګی را جلبولو سره مرسته، د یو معتبر قانوني چوکاټ جوړول او د داسې خنډونو چې د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې مخه نیسي له منځه وړل، شامل دي. برتانیا پوهیږي چي افغانستان په خپلو سوداګریزو کړنلارو کې د اصلاحاتو د ټاکلو، پلانولو او پرله پسې تطبیقولو لپاره انعطاف پذیرۍ ته اړتیا لری څو دا کړنلارې د افغانستان د پرمختیا له ملی استراتیژۍ سره چي اهداف یې د افغانستان د راتلونکې د خوندي کولو او د بیوزلۍ د دوامداره کمولو لپاره د لازمې اقتصادي ودې او ټولنیز پرمختګ رامنځته کول دي، سمون ولري. دواړه حکومتونه به په منځنۍ او جنوبي آسیا کښې د ثبات او هوساینې د ټینګولو لپاره سیمه ییزو اقتصادي همکاریوته په لافعاله توګه وده ورکړي. برتانیا به په نړیوالو ادارو اوبیا په ځانګړې توګه د اروپایي اتحادیې او د جي ۸ هیوادو کې له خپل موقف څخه د دې اقتصادي آجندا د پر مخ بیولو او افغانستان سره د تجارتي همکاریو د پراختیا لپاره ګټه واخلي.

**امنیت**

۶. برتانیا د نړیوالو قوانینو سره سم د افغانستان له ملي واکمنۍ، استقلال، ځمکنۍ بشپړتیا او د نورو هیوادونو له خوا د دې هیواد په کورنیو چارو کې د نه مداخلې په بشپړه توګه ملاتړ کوي.

دواړه حکومتونه د منځنۍ او جنوبي آسيا او په مجموع کې د نړيوال امنيت په ټينګښت کې د افغانستان د ثبات په اهميت پوهيږي. افغانستان او برتانيه دواړه د دولتونو تر منځ د شخړو په سوله ييز حل او د رغنده او موثرو اړيکو له لارى د سيمه ييز امنيت په لاټينګښت باور لري. زموږ حکومتونه د ښه ګاونډيتوب د اړيکو د هغې اعلاميي اساسات چې د ۲۰۰۲ کال د دسمبر په ۲۲مه نيټه په کابل کې د افغانستان او ګاونډيانو تر منځ لاسليک شوه په رسميت پيژني او ملاتړ يې کوي. دواړه حکومتونه د تروريزم او بنسټ پالنې له خوا د رامنځته شوي ګواښ څخه خبر دي او په دوامداره توګه به هڅه وکړي چې افغانستان هيڅکله بيا د تروريزم او بنسټ پالنې په ځاله بدل نشي.

۷. موږ به په افغانستان کې د موجودو پوځي او امنيتي عملياتو په لړ کې د حکومت د پياوړتيا لپاره نږدې همکاري ولرو. دواړه حکومتونه د افغانستان له خوا د خپل امنيت د ټينګولو لپاره د يوه اغيزمن، مسئول او مسلکي پوځ د جوړولو پر اهميت پوهيږي. د دې هدف دلاسته راوړلو لپاره د نړيوالې مرستې د اړتيا په نظر کې نيولو سره، برتانيا به د افغانستان د امنيتي سکتور په رغولو کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي. برتانيا به د افغانستان له حکومت سره په دې هوډ کې چې په نړيواله ټولنه کې يو بشپړ رول ولوبوي او پدې لړ کې له ناټو سره هم اوږد مهاله اړيکې ټينګې کړې، مرسته وکړي . افغانستان د برتانيوي ځواکونو رول چې د ائتلاف او ناټو په چوکاټ کښې يې په افغانستان کې د سولې اوثبات د ټينګښت لپاره لوبوي، ستاينه کوي.

**له نشه يي توکيو سره مبارزه**

۸. د افغانستان او برتانيا حکومتونه په افغانستان کې د نشه يي توکيو د توليد او قاچاق د له منځه وړو لپاره ګډې او نږدې هلې ځلې کوي. برتانيا چې د جي ۸ هيوادونو په استازيتوب له نشه يي توکيو سره د مبارزې مشري کوي، له افغانستان سره به د نشه يي توکيو د له منځه وړو لپاره د نړيوالو هڅو په زياتولو او انسجام کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي. برتانيا به په ځانګړې توګه د افغاني مقاماتو سره دنشه يي توکيو د قاچاق وړونکو او د دوی د سازمانونو په نيولو کې، د جرايمو د عدلي سيستم په پياوړتيا، د کوکنارو د کرکيلې د کمښت لپاره په هلو ځلو، او د هغو خلکو لپاره چې د کوکنارو پر کرکيلې متکي دي، د يو پايداره متبادل معيشت په برابرولو کې

مرسته وکړي. زموږ مشترک هدف دا دی چې د افغانستان خلک د ډاډمن، هوسا او قانوني معیشت د تر لاسه کولو وړتیا پیدا کړي.

**انکشاف**

۹. دواړه حکومتونه سره موافق دي چې د بیوزلۍ د کمولو او په افغانستان کې د زریزې د انکشافي اهدافو د لاس ته راوړو لپاره یو ځای کار وکړي. موږ دواړه د افغانستان اقتصادي ودې ته ژمن یو چې په نتیجه کښې به یې په تدریجي توګه د حکومت د اساسي فعالیتونو او ضروري خدماتو د رسولو لپاره پر نړیوالو مرستو اتکا لږ شي. په دې اړه به برتانیا د افغانستان د حکومت بودجې ته په مناسبه کچه د پراختیایي مرستو تعهد ته دوام ورکوي، او همدا راز به د منابعو د موجودیت په باب د پیشګویي وړتیا زیاتوي، البته په هغه صورت کې چې د منل شویو اصلاحاتو په راوستو کې پرمختګ وشي.

**ښوونه او روزنه او مطبوعات**

۱۰. دواړه حکومتونه د پیاوړو اکادمیکو او تحقیقي ادارو په ارزښت پوهیږي. دواړه به د برتانیوي او افغاني موسساتو تر منځ د اړیکو د ټینګولو، د تحصیلي بورسونو د برابرولو، او د انګلیسي ژبې د تقویې له لارې په افغانستان کې د لوړو زدکړو د سکتور او د تحقیقي موسساتو د ظرفیت د لوړولو لپاره هڅې وکړي.

۱۱. برتانیا به په افغانستان کې د آزادو او مسلکي خبري رسنیو د پیاوړتیا لپاره خپلو مرستو ته ادامه ورکړي.

**کلنۍ بیا کتنه**

۱۲. د افغانستان او د برتانیا حکومتونه به د ټولو هغو مهمو ګامونو چې دې اهدافوته د رسیدلو لپاره اوچت شوي هر کال په یوه جګپوړې سطحه بیا کتنه کوي، او د راتلونکې مودې لپاره به پر

لومړيتوبونو موافقه کوي.  دواړه حکومتونه په دې هم توافق کوي چې پس له لسو کالو به د خپلو راتلونکو همکاريو يو بشپړه ستراتيژيکه بياکتنه سرته رسوي.

پورتني يادداشتونه پدې سند کې د ذکر شويو مواردو په اړه د لويې بريتانيا او شمالي آيرلند د متحده شاهي حکومت او د افغانستان د اسلامي جمهوريت د حکومت تر منځ رامنځته شوی تفاهم څرگندوي.

دا سند په دوو نسخو کې په لندن کې د ۲۰۰۵ کال د جولای د مياشتې په نولسمه نيټه په انگليسي او پښتو ژبو کې، پداسې حال کې چې د دواړو ژبو نسخې مساوي حيثيت لري لاسليک شو.

| | |
|---|---|
| جلالتمآب توني بلير | جلالتمآب حامد کرزی |
| د پارلمان غړی او لومړی وزير | جمهور رئيس |
| د لويې بريتانيا او شمالي آيرلند | د افغانستان د اسلامي |
| د متحده شاهي حکومت له خوا | جمهوري حکومت له خوا |

لندن، د ۲۰۰۵ کال د جولای نولسمه